**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# پاکوالی

دویم ټولګی، لومړی سمستر، دریمه سویه



د لوستلو لپاره آزمایښتي مرستندوی کتاب

پښتو

**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونکو
د روزنې معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# پاکوالی

## د دويم ټولګي د څوارلسمې اونۍ لپاره

پښتو
مرکز، ننګرهار، افغانستان

د لوست دا مرستندوی کتاب د «افغان ماشومان يې لولي» پروژې په تخنيکي مرسته تأليف شوی دی

ليکوال: نورالله نوري

اېډېټور: همايون رشيدي

انځورګره : بهشته محسني

د تصحیح کمېټه

---

اسلامي: شهیدالله عزيزي

کلتوري: غلام سرور ګلابزی

ژبنۍ: محمد سهراب دیدار

بسم الله الرحمن الرحیم



صابره او صابر خور او ورور دي.

صابر او صابره له ښوونځي
څخه راغلل.
ډوډۍ تیاره وه.
شور ما شور شو.
مور یې وویل:
څه خبره ده؟



صابرې وویل:

صابر لاسونه نه مینځي!

مور یې وویل:

زویه! لاسونه ولې نه مینځې؟

صابر وویل:
لاسونه مې مینځلي دي!
صابرې وویل:
په ویاله کې یې مینځلي دي.
مور یې وویل: زویه! د ویالې
اوبه پاکې نه دي.



لاسونه به په صابون او پاکو اوبو مینځې.

که لاسونه ونه مینځې ناروغ به شې.

صابرې وویل:
یوه ورځ معروف لاسونه نه وو مینځلي.
ډوډۍ یې وخوړه.
بیا ناروغ شو.




مور يې بيا روغتون ته يووړ.

صابر وويل:

پوه شوم.

صابر پاڅېږه.

لاسونه يې په صابون او پاکو

اوبو ومينځل.

درسي کتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. پېرودل او پلورل يې په
کلکه منع دي. له سرغړوونکو سره به قانوني چلند وشي.